# ستاسو معلومات
# ستاسو حق
# (YOUR DATA YOUR RIGHTS)

CAPITAL AREA FOOD BANK®

*دغه زېرمتون د یوه الیکترونیکي سیستم سره وصل دی ترڅو خپلې داخلي پروسې ترسره کړي. دا پدې مانا چې په دغه پاڼه کې ټول پخواني راټول شوي معلومات به اوس په الیکترونیکي ډول ثبتیږي. دا د دغې زېرمې، د خوراکي توکو د بانک او ترټولو مهمه ستاسو لپاره یو لوی بدلون دی! موږ په دې پوهیږو چې تاسو کېدی شي ځینې پوښتنې ولرئ او لاندې مو دا هڅه کړې ده ترڅو ستاسو دغو پوښتنو ته ځوابونه وړاندې کړو. که غواړئ پدې اړه نور پوه شئ، نو له تاسو غوښتنه کیږي چې پدې اړه د خپلې سیمې د زېرمتون د مسؤلینو سره خبره وکړئ.*

*(This pantry is switching to an electronic system to do its intake process. This means that all information that was previously collected on paper will now be saved electronically. This is a big change for this pantry, for the food bank, and most importantly for you! We understand you may have some questions and we have tried to answer them for you below. If you want to know more, you are encouraged to talk with the staff at your local pantry.)*

---

## ولې بدلون؟ (WHY THE CHANGE?)

Capital Area د غذايي موادو بانک د مصرف د پروسېس لپاره له دغه سیمه ئیزي شربت خوني سره د همکارۍ له امله خوښ دی. په دغه نوي پروسه کې په شرکت او څو پوښتنو ته د ځوابونو په وړاندې کولو سره، به مو موږ سره مرسته کړې وي چې له دغه زېرمتون څخه د نویو لیدنو لپاره د انتظار موده را کمه کړو او موږ سره مرسته وکړئ ترڅو ټولنې ته د خدماتو د عرضې په برخه کې غوره منطقي پرېکړې وکړو.

(The Capital Area Food Bank is pleased to collaborate with this local pantry to modernize the intake process. By taking part in this new process and answering a few questions, you will help us reduce wait times for return visits to this pantry and help us make smarter decisions on how to serve your community.)

## نو نوی سیستم څنګه یو سیستم دی؟ (SO WHAT'S THE NEW SYSTEM?)

دغه سیستم د Service Insights په نامه یادیږي. دغه د الیکترونیکي معلوماتو یو ابزار دی چې چارې آسانه کوي د هغې ټولنې په اړه د معلوماتو د مدیریت کولو په موخه د مواد زېرمتونونه چې د راپور ورکولو د هر ډول الزاماتو د پوره کولو پرمهال خدمات عرضه کوي.

(The system is called Service Insights. It is an electronic information tool that makes it easier for pantries to manage information about the community they serve while fulfilling any reporting requirements.)

## آیا اړتیا لرم چې خپل معلومات چمتو کړم؟ (DO I HAVE TO PROVIDE MY INFORMATION?)

نه، خو د دې لپاره چې USDA/TEFAP )په بیړنیو حالاتو کې د خوراکي توکو د مرستو پروګرام( ترلاسه کړئ، نو پدې صورت کې به موږ لاندې معلوماتو ته اړتیا ولرو

(No, but in order to receive USDA/TEFAP (The Emergency Food Assistance Program), we will need to know the following information):

- ستاسو نوم او تخلص (First and last name)
- آدرس (Address)
- د کورنۍ د غړیو تعداد (Number of people in your household)
- ستاسو میاشتنی عائد یا دا چې آیا تاسو د SNAP/food stamps, TANF او داسې نورو پروګرامونو په شان په کوم پروګرام کې ونډه لرئ که څنګه. (Your monthly income OR if you participate in any assistance programs such as SNAP/food stamps, TANF, etc.)

همدارنګه موږ به ستاسو د نژاد یا توکم، ستاسو د کورنۍ د غړیو د نومونو او عمرونو په اړه له تاسو څخه د معلوماتو غوښتنه وکړو. تاسو اړ نه یاست چې د TEFAP د ترلاسه کولو لپاره دغو پوښتنو ته ځواب ورکړئ، خو موږ پدې خوښ یو چې پوښتنې ځواب کړئ.

(We will also ask about your race or ethnicity, and the names and ages of your household members. You are not required to answer these questions to receive TEFAP, but we hope that you will choose to answer them.)

## آیا زه باید دا کار هر وخت وکړم؟ (WILL I HAVE TO DO THIS EVERY TIME?)

نه. له Service Insights څخه استفاده کول تاسو ته اجازه درکوي چې خپل معلومات په الیکترونیکي ډول جمع کړئ او په راتلونکي کې په چټکۍ سره وکولی شئ مراجعه وکړئ. موږ به یوازې له تاسو غوښتنه کوو چې خپل معلومات وخت نا وخت اپډېټ کړئ.

(No. Using Service Insights allows us to store your information electronically and make future visits quicker. We will just ask you to verify and update your information from time to time.)

*پوښتنې یا اندېښنې؟ موږ ته په لاندې آدرس ایمیل وکړئ:* *ServiceInsights@capitalareafoodbank.org*

(*Questions or concerns? Email us at ServiceInsights@capitalareafoodbank.org*)

موږ په ګډه سره کولی شو د لوږې پروړاندې مبارزه وکړو

# ستاسو معلومات
# ستاسو حق
# (YOUR DATA YOUR RIGHTS)

CAPITAL AREA FOOD BANK®

## د معلوماتو په برخه کې د CAFB ژمنه (THE CAFB DATA PROMISE)

**موږ به ستاسو معلوماتو سره په درنښت او کرامت سره چلند وکړو.**
**(We will treat you and your information with dignity and respect.)**

که چېرې نه غواړئ خپل معلومات چمتو کړئ یا کومې پوښتنې د ځواب ویلو له امله د ناخوښۍ احساس کوئ، نو مو دغه انتخاب ته درناوی کوو خپله ټوله هڅه به وکړو ترڅو تاسو ته له ستونزې پرته خدمات چمتو کړو. موږ به ستاسو په ځوابونو باندې باور وکړو او تاسو ته به تر ټولو غوره خدمات چې په هره برخه کې وي چمتو کړو.

(If you do not want to provide your information or if you feel uncomfortable answering any questions, we respect that choice and will do our best to provide services to you no matter what. We will trust your answers and will always provide our best service no matter what.)

---

**موږ به ستاسو معلومات خو ندي او محفوظ وساتو.(We will keep your information safe and secure.)**

موږ به په خپل ټول توان سره ستاسو معلومات خوندي وساتو. موږ به ستاسو معلومات له دغې شبکې د باندې د نورو خلکو سره شریک نه کړو. Service Insights د معلوماتو د ساتنې یا امنیت لوړ معیارونه لري، او کارنان یوازې کولی شي هغه معلومات ووینې چې هغوی ورته اړتیا لري. له دغې لارې د معلوماتو ثبتول تر هغې چې په پاڼه کې یې ثبت کړئ، څو ځله خوندي او محفوظ دي.

(We will guard the information that you provide us with to the best of our ability. We will not share your personal, individual information with anyone outside of this partner network. Service Insights has very high security standards, and users can only see the information that they need to see. Recording information in this way is much safer than recording it on paper.)

---

**موږ به له دغو معلوماتو څخه یوازې تاسو ته د غوره خدماتو په چمتو کولو کې استفاده وکړو.**
**(We will only use this information to provide better services for you.)**

تاسو موږ ته د ځان په اړه د اساسي معلوماتو په چمتو کولو سره موږ سره مرسته کوئ چې ټولنې ته خپل خدمات د هغوی د اړتیاو مطابق په سمه او ممکنه توګه عرضه کړو. موږ له دغو معلوماتو څخه ستاسو د شرخصي فعالیتونو په مدیریت یا د خدماتو په محدودلو کې مرسته و ن کړو. هر هغه شخص به چې ستاسو معلوماتو ته لاسرسی لري دغه کار یوازې د وړاندې شویو خدماتو د ثبت یا ستاسو د پروفایل د اپډېټ کولو په موخه دا کار وکړي. ستاسو زېرمتون او د خوراکي توکو انبار کولی شي د پروسو د پلټنې او د ټولنې په اړه د نورو معلوماتو د راټولولو په موخه راپورونه جوړ کړي، خو د دغو رپوټونو له مخې د هېڅ ډول ځانګړیو او د درک وړ معلومات په اړه جزئیات نه ورکول کېږي.

(By providing your basic information to us, you help us to tailor our services to community needs as best as we can. We will not use this information to monitor your individual activity or limit services to you. Anyone accessing your information will only do so to log services provided or update your profile. Your pantry and the Food Bank can run reports to look for trends and learn more about the community, but the reports will not identify any specific, individually identifiable information.)

*پوښتنې یا اندېښنې؟ موږ ته په لاندېآدرس ایمېل وکړئ: ServiceInsights@capitalareafoodbank.org*
*(Questions or concerns? Email us at ServiceInsights@capitalareafoodbank.org)*

موږ په ګډه سره کولی شو د لوږې پروړاندې مبارزه وکړو